# د پاکستان او په افغانستان کې د دیفکتو واکمنو چارواکو ترمنځ د تاوتریخوالي د زیاتوالي په اړه ګډه اعلامیه

04/03/2026

موږ د پاکستان اسلامي جمهوریت او په افغانستان کې د دیفکتو چارواکو ترمنځ د چټک بدلېدونکي وضعیت په اړه ژوره اندېښنه لرو. په وروستیو اونیو کې د پولې دواړو غاړو ته د پوځي نښتو زیاتوالی د ملکي وګړو ژوند، سیمه‌ییز ثبات او پخوانۍ اقتصادي اړیکې له جدي ګواښ سره مخ کړې دي.

په تېرو اونیو کې د ګډې پولې په اوږدو کې پوځي بریدونه او مخامخ نښتې زیاتې شوې دي، چې پکې هوایي عملیات او ځمکنۍ جګړې هم شاملې دي. هم پاکستان اسلامي جمهوریت او په افغانستان کې د دیفکتو چارواکو دغه وضعیت د څو کلونو راهیسې د روان کړکېچ د جدي پړاو په توګه یاد کړی دی. د پاکستان دفاعي چارواکو وضعیت د «پرانیستې جګړې» په توګه تشریح کړی، د پرله‌پسې پولې پورې غاړې بریدونو یادونه یې کړې او د نورو عملیاتو ژمنه یې کړې ده. له بلې خوا، دیفکتو چارواکو د افغانستان ښارونو او سرحدي ولایتونو بریدونه د ملي حاکمیت ښکاره سرغړونه بللې او په کلکه یې غندلې دي.

د دې تاوتریخوالي له زیاتېدو سره سم، بشري زیانونه هم ډېر شوي دي. د په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوي (یوناما) راپورونه ښیي چې د هوایي بریدونو له امله [146 ملکي وګړي وژل شوي او ټپیان](#) شوي دي، چې پکې د ماشومان او ښځې هم شامل دي.

افغانستان نږدې پنځه لسیزې جګړه، بې‌ځایه کېدنه، جبري ستنېدنه او پرله‌پسې تاوتریخوالی تجربه کړی، چې له امله یې میلیونونه کورنۍ زیانمنې او له اقتصادي پلوه نازکې شوې دي. د روان کړکېچ زیاتوالی کولای شي د پولې دواړو غاړو ته د ټولنو وضعیت لا پسې خراب کړي، په ځانګړي ډول د کډوالو کورنیو، داخلي بې‌ځایه شویو کسانو، سوداګرو او کارګرانو لپاره چې ژوند یې پر سوله‌ییزو پوله‌اړخیزو اقتصادي فعالیتونو ولاړ دی. د تګ راتګ محدودیتونه او د سرحدي لارو تړل کېدل لا له وړاندې سوداګري، توکو او خدمتونو ته لاسرسی، او هغه دودیز اقتصادي فرصتونه زیانمن کړي چې د سرحدي سیمو د کورنیو ملاتړ یې کاوه.

په داسې حال کې چې د افغانستان لوېدیځ ګاونډی، ایران، هم په شخړه کې ښکېل دی، د بې‌وزلۍ تر کرښې لاندې د ژوند کوونکو خلکو شمېر د سیمه‌ییزې سوداګرۍ د ګډوډۍ له امله د عایداتو د کمښت او د بیو د لوړېدو له خطر سره مخ دی. له همدې امله، موږ له دیفکتو چارواکو غوښتنه کوو چې سمدستي خوندي سوداګریزې لارې، په ځانګړي ډول له پاکستان سره، تضمین کړي څو د زیاتېدونکو سیمه‌ییزو کړکېچونو په منځ کې د خلکو اقتصادي ستونزې راکمې شي، ځکه چې میلیونونه ملکي وګړي د خوړو او باثباته عایداتو له کمښت سره مخ دي.

موږ پر لاندې اصولو ټینګار کوو:

**۱. د ملکي وګړو ساتنه باید لومړیتوب وي:** ټول لوري د نړیوال بشردوستانه حقوقو له مخې مکلف دي چې ملکي وګړو ته له زیان رسولو ډډه وکړي. د بې‌ګناه انسانانو وژل د منلو وړ نه دي، او باید هر ممکن اقدام وشي څو نور ملکي تلفات مخه ونیول شي.

**۲. سمدستي اوربند اړین دی:** د غچ اخیستنې او پوځي زیاتوالي اوسنی بهیر نه امنیت راولي او نه عدالت. دواړه خواوو باید ژر تر ژره تهاجمي عملیات ودروي او د رښتیني اوربند پر سر هوکړې ته ورسېږي.

**۳. تلپاتې سوله له ټولشموله خبرو اترو پرته ناشونې ده:** پوځي لارې چارې د سیاسي بهیر بدیل نه شي کېدای. د باور وړ دریېمګړو منځګړو دوامداره هڅې اړینې دي څو باور جوړ شي، بنسټیز اختلافات حل شي، او داسې هوکړې رامنځته شي چې اوږدمهاله سوله او ثبات تضمین کړي.

**۴. اقتصادي همکاري او ټولنیزه هوساینه د بې‌ثباتۍ د کمولو لپاره حیاتي دي:** د جګړې بشري او اقتصادي زیان تر ټولو زیات پر زیانمنو ټولنو پرېوځي، چې ژوند یې د تاوتریخوالي، دندو له لاسه ورکولو او د تګ راتګ له محدودیتونو اغېزمنېږي. د خوندي سوداګرۍ او د عایداتي سرچینو بیا رغونه باید د هر جامع سوله‌ییز پلان برخه وي.

موږ له ټولو ښکېلو لورو غوښتنه کوو چې له ځنډ پرته پر دغو اصولو ژمنتیا وښیي. تاریخ ښیي چې اوږدمهاله شخړې نسلونه زیانمنوي، بنسټیز بشري حقونه کمزوري کوي، او د هغو ولسونو ترمنځ بې‌باوري ژوره کوي چې راتلونکې یې له یو بل سره تړلې دی.

**چمتو شوی له خوا:**

- د بشري حقونو مدافعانو ټولنه
- د مدني ټولنې او بشري حقونو شبکه
- د شکنجې پر ضد نړیوال سازمان
- د افغانستان د ډیموکراسۍ او پراختیا موسسه
- د هیلې کړکۍ
- د ګډو دریځونو لپاره د خبرو اترو مرکز
- Alefbe.App